بمورخه یکم جون ۱۹۶۵ء

مناظرهٔ مردان

...میان د علماء اهل السُّنة والجماعة ضلع مردان

او د پنج پیر مُلا

...ظره په حضور د مولوی سید گل بادشاه صاحب امیر جمعیة العلماء اسلام سرحد
...پټی کمشنر صاحب او د کپتان صاحب او نوابزاده عبد الغفور خان صاحب کښ شوید ه

اِثباتِ دَورُ الاُسقاط

فِی تردِیدِ فتوی الاغلاط

مرتبه

...علامه الحاج مولانا شائسته گل المتوی سلمه الله القوی

مُهتمم دار العلوم حنفیه سنیه لنډی شاه ډاکخانه

کاټلنګ ضلع مردان

بکتابت مالک

کتب خانه رحیمیه محله جنگی عقب قصه خوانی پشاور

منظور عام پریس پشاور

مناظرہ مردان

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

(۱) پہ شروع د مناظرہ کښ پنجپیر ملا د خپلے مدعا د اثبات دپارہ استفتا گانے پیش کړے۔ مولوی زین اللہ صاحب اوئیل چہ دا استدلال پہ استفتا گانو باند د دے خبرے دلیل دے چہ دے پخپلہ عالم نہ دے ځکہ کوم سړے چہ عالم وی نو هغہ پہ موقع باندِ کتابونہ پیش کوی د بل چا استفتا گانے اخلی غیر عالم پیش کوی پس بهترہ به داوی چہ دہ د چانہ استفتا گانے کړیدی هغوی دِ راولی چہ پہ موقعہ باندِ کتابونہ اوښائی او مونږہ مثبتینو د ومرہ کتابونہ راوړی دی چہ د عربی اوښ بار ترے جوړیږی لہ دے وجہ د پنجپیر ملا هغہ یوہ استفتاء هم ونہ لوستے شوہ ټولے بیکارہ شوے۔

(۲) بیا پنجپیر ملا ووئیل چہ صاحبزادہ خلقوتہ قرآن پہ لاس اونیسہ او د خدائے د قرآن ترجمہ ورتہ کوم حما دغہ کار دے۔ مولوی صاحب درتہ ووئیل چہ دے کښ شک نشتہ دے چہ پہ لاس کښ ئے قرآن نیولے وی لکن د هغے ترجمہ چہ کوم کوی هغہ د خدائے د قرآن ترجمہ نہ وی بلکہ خپل عقائد فاسدہ نجدیہ د آیت پہ ترجمہ کښ بیانوی یعنی د آیت خپلہ معنی او ترجمہ پریږدی او د هغے پہ ځائے خپلہ فاسدہ عقیدہ د هغہ آیت ترجمہ اوگرځوی او کہ دے لہ دینہ منکروی نو دے دِ قرآن اوکی چہ موضع تہ کړی کښ دہ خلقو تہ د آیت ربنا اطعنا سادتنا کبرائنا فاضلونا اہ د ا ترجمہ ندہ کړے چہ پہ ورځ د قیامت بہ د اعوام اللہ تعالیٰ تہ اوائی چہ اے ربہ مونږ دے علماء گمراہ کړی یو د وی لہ دوچند عذاب ورکہ۔ اوگورئ د قرآن تفاسیر چہ د اآیت پہ حق د کفارو کښ نازل شوید ے یعنی ماتحت کفار بہ د خپلو مشرانو کفارو نہ رب تہ شکایت کوی او دہ ئے ترجمہ د دے زمانے پہ علماؤ او عوامو باندِ کړے دہ پس دے دِ حلف اوکړی چہ ما د ا ترجمہ ندہ کړے۔ صرف زبانی انکار ئے هم اونہ کہ بلکہ چپ پاتے شہ (فبهت الذی الخ)

(۳) بیا پنجپیرے پخپلے حق گوئیے او گنیدہ او وے وئیل چہ زہ اشاعت د خدائے دپارہ کوم مولوی زین اللہ صاحب ورتہ ووے چہ صاحبہ دے د خدائے دپارہ اشاعت نہ کوی بلکہ دے د حکومت سعودیہ نجدیہ د عقائد فاسدہ و اشاعت کوی او هغہ ورلہ غټہ او معقولہ تنخواہ ورکوی دا دے چہ څہ وائی د خدائے دپارہ ئے نہ وائی بلکہ پہ تنخواہ ئے وائی او دے چہ وائی چہ مثبتین د دروغ وائی نو دے دِ قرآن او طلاق او خوری چہ دا بیان او اشاعت د دغے حکومت پہ تنخواہ باندِ نہ کوم نو مونږ بہ ملامت شو نو دہ قسم اونہ کہ او چپ پاتے شہ (فبهت) مثبتینو ووئیل اوگورہ صاحبہ تاتہ هم واضح شوہ چہ دا پروپیگنڈہ د هغوئ پہ تنخواہ دہ

(۴) بیا پنجپیری دے صاحبزادہ د پاکستان خیرخواہ اوهمدردیم او د پاکستان دپارہ خدمات کوم۔

مثبتینو ورتہ اوے صاحبہ دا دہ د پاکستان خیرخواهی وا ورہ هرکلہ چہ پاکستان قائم شہ متصل ورسرہ د کشمیر جهاد شروع شہ مسلمانانو د حکومتِ پاکستان پہ حکم باندِ د امداد پہ بناء باندے پرجوش جهاد شروع کړ علماؤ بہ خلقو تہ د جهاد تبلیغ کولو او دہ بہ دا پروپیگنډہ کولہ چہ د کشمیر پہ جنګ کښ څوک مړ شہ هغہ مردار مړ شہ حکومت دے څو ځلہ منع کہ چہ دا پروپیگنډہ مہ کوہ مگر دے منع نہ شہ۔ پس حکومت تحصیل صوابی تہ راوستہ او مخ ئے د لسہ تور کہ او پہ خرئے اړولے سور کہ او د خر لکئ ئے ورلہ پہ لاس کښ ورکړہ او د هر کوامیلے ئے ورتہ پہ غاړہ کہ او پولیس د صوابئ پہ تحصیل او پہ اړہ کښ اوگرځولو او ډیر مخلوق ئے تماشے تہ ولاړ وو او چغے ئے ورپسے ایستے چہ دا د کشمیر د جهاد نہ مخالف دے او د حکومت پاکستان مخالف دے چونکہ دہ دے د دې بیانونے واقعے نہ انکار نشو کولے نو چپ پاتے شہ (فبهت الخ) د زړے نہ اواز خوت او دہ نہ نہ خوت۔ اوگورہ صاحبہ! دے سرہ د دہ عمل قبیحہ پہ کومہ خولہ باندِ وائی چہ زہ د پاکستان همدردیم دا دہ همدردی دہ۔

(۵) بیا دے پنجپیر ملا ووئیل چہ مړو لہ ادراک او شعور نشتہ ځکہ چہ خدائے پہ حق د شهداؤ کښ لایشعرون ویلی دی پہ دے آیت کښ ولاتحسبن الذین قتلوا فی سبیل اللہ امواتا بل احیاء ولکن لاتشعرون۔ نو فوراً مولوی حمد اللہ صاحب (مصنف رد البصائر) ووئیل چہ دا لفظ لاتشعرون دے تحریف لفظی او معنوی د دوارہ دِ اوکړو۔ د خپلے فاسدے خبرے دپارہ او گورئ د خپلے غلطے خبرے دپارہ د خدائے قرآن وړانوی۔

بیا دہ هم د دے مدعا دپارہ اوئیل چہ مړو لہ ځکہ ادراک او شعور نشتہ چہ خدائے حضرت عزیر علیہ الصلوٰۃ والسلام تہ پس د مړوندی کولو نہ دوے چہ کم لبثت قال لبثت یوما او بعض یوم۔ قال بل لبثت مائۃ عام پس کہ دہ لہ ادراک او شعور وے نو دہ څلہ یوما او بعض یوم وئیل۔ مولوی زین اللہ صاحب اول د پنجپیر ملا د خوشحالولو دپارہ نور دوہ درے آیتونہ داسے ذکر کړہ چہ پس د مرگہ نہ د عالم برزخ نہ بیا د نیا تہ نشی راتلے۔ بیائے ووئیل چہ د جواب ورکولو نہ اول اول دِ دے د دے آیتونو توفیق اوکړی۔ د بعضے آیتونو نہ دا ظاهرہ شوہ چہ پس د مرگہ نہ مړی ژوندی شویدی او د بعضو نہ صراحۃً دا واضح دہ چہ پس د مرگہ د عالم برزخ نہ دنیا تہ نشی راتلے۔ مثبتینو صاحب تہ اووئیل چہ دا پنجپیرے دِ دے آیتونو توفیق اوکړی۔ دوہ درے منٹہ دہ انتظار اوشہ خو دہ څہ اونہ وئیل۔ مولوی زین اللہ صاحب پہ واضح طریقہ سرہ د دے توفیق اوکہ چہ کوم خلق پہ خپل اجل سرہ مړہ دی د هغو شعور شتہ دے او کوم خلق چہ د څہ فائدے دپارہ قبل الاجل مړہ دی او بیا د پورہ کولو د خپل اجل دپارہ ژوندی شویدی نو د هغو شعور نہ وی د توفیق نہ پس بیا د دہ د اعتراض پہ تفصیل سرہ جواب اوشہ چنانچہ ید غہ جواب د ری سی صاحب خوشحالہ شہ او دے چپ چاپ ناست وو۔ پہ جواب ئے هیڅ اعتراض اونہ کہ۔ د دے نہ پس بعضے مسئلے دہ مجبوراً او منلے چہ پہ هغے باندِ د فریقینو دستخطونہ اوشو او د بعضو دپارہ تاریخ مقرر شہ۔ دا د موقعے د حالاتو اجمالی بیان دے۔ واللہ اعلم بالصواب

مولوی زین اللہ بقلم خود

ا جون سنہ ۱۹۷۵ء

اثبات دور الاسقاط

فی تردید فتوی الاغلاط

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العلمین۔ والصلوة والسلام علی سید المرسلین۔ وعلی آله واصحابه اجمعین۔ اما بعد پس وائی مولوی **شائسته گل** چه په دریم د ربیع الثانی ۱۳۸۵ھ مطابق یکم اگست ۱۹۶۵ء ما ته پوښتنه اولیږله چه مسمی وو (د اسقاط مروجه متعلق فتوی) چه د هغه پوښتنو تمام داره لیک په غلط فهمی بانډی وو۔ نو ما د خدای د رضا دپاره دا تحریر اوکړه چه صحیح مسلمانان د غلط فهمی نه بچ شی او نوم می ورله (اثبات دور الاسقاط فی تردید فتوی الاغلاط) کیښود. که په توفیق د الله تعالی سره او په احسان او کرم د ده سره۔ اوس وایم چه د غه پوښتنه کښ سوال داد اول قول د اسقاط مروجه متعلق فتوی۔ د اسقاط مروجه متعلق علماء کرام څه فرمائی؟ چه اکثر مقاماتو کښ د عرصے نه دا رواج دے چه څه وخت د مړی نماز جنازه ادا کړے شی نو یوه دائره جوړه شی او قرآن کریم د څه پیسو سره په هغه دائره کښ اوګرځولے شی د مړی د قضا شده حقوقو په فدیه کښ ایجاب قبول اوکړے شی۔ د ځو پیرو ودو نه بعد هغه پیسے په عام خلقو تقسیم کړی فقراو او اغنیاؤ لره ورکړے شی۔ قرآن کریم اکثر د پیش امام وی هغه دیو ځو پیسو سره واپس واخلی۔ یا دا طریقه شرعاً جائزه ده او که نه؟ زه وایم چه جواب شرعی دد دے سوال دا دے۔ چه دا طریقه شرعاً جائزه ده په وجوه کثیره سره

اول وجه دا ده فما یفعل الآن من تدویر الکفارة بین الحاضرین وکل یقول للآخر وهبت هذا الدراهم لاسقاط ما علی ذمة فلان من الصیام والصلوة وغیرها ویقبلها الآخر صحیح اه طحطاوی الدر المختار حکم چه دا دور مضمر مجمل دے ادا دواد دویم وجه دا الفاظ دوری دکتاب مجموعة رسائل الشامی جز (۱) یعید الدور (۲) وما تعارفه الناس) ونص علیه اهل المذهب ان الواجب اذا کثر ادار (۳) واصرة ص۲۱۲ (۴) ان یوکل وکالة دوریة ص۲۳۱ (۵) اخرج الدور (۶) یعید الدور (۷) فلیقصد الدور ص۲۲۳ (۸) فبالدور ص۲۲۳ (۹) فلیقصد مدیرها ص۲۲۳ (۱۰) فید در المسقط بنفسه وارثا کان او غیره او یوکل غیره اه منحة الخالق (۱۱) فحینئذ تصیر فدیة عشر سنین مؤداة فی دور واحد منحة الخالق فوایت ص۹۸/۷ (۱۲) فان کان الولی جاهلا فلا یحتاج حینئذ الی حین الدور) من توکیل من یدرک ذلک کله من اهل العلم والصلاح اه مجموعة رسائل الشامی ص۲۲۲/۱ (۱۳) فتکون الوکالة لاحد اهل العلم العارفین بذلک (ای الدور) مجموعة رسائل الشامی ص۲۲۳/۱ حکم چه تول الفاظ د دور په دے عباراتو کښ مطلق دے نو شامل دے جواز د خلور و وارو قسمو د دور د تملک تفصیل به ئے راشی په جوابونو د قول ثالث کښ او یوه د هغه قسمونو نه طریقه مروجه ده چه دور مضمر مجمل دے (او کوره طریقه مروجه دا ده چه اسقاط کونکے بلواټی) جمیع حقوق د بادی تعالی چه لازم الاداء وو په ذمه د دے حاضر میت متوفی بانډی بعضے ئے ادا کړی وی چه اسلام ظاهر دده دے او بعض به تر فوت شوی وی چه عجز انسانی دده دے اوس دے عاجز دے دا دا د مافات نه پسبب د موت سره او هغه فوت شوی حقوق نه ساقطیږی په سبب د موت سره او فدیه د هغو صحیح کیږی چه ثابته ده په ایت ربانی سره دا قرآن مجید سره دے د مال بے د د ظروفو په بدل د هغه حقوقو کښ چه فدیه عند الشرع د هغے نه صحیح کیږی دا ما تا ته فدیه کړے بل به اوائی چه ما قبول کړے دے نو بیا به دے د دریم ته اوائی۔ په دے د طریقه

مذکوره ما تا ته فدیه کړے دے هغه دریم به اوائی چه ما قبول کړیدے بیا به دا دریم څلورم ته اوائی په دے طریقه مذکوره ما تا ته فدیه کړے دے نو هغه به اوائی چه ما قبول کړیدے نو بیا بیا تر هغه پورے چه ابتدا کونکی ته ورسی سره د قبض د هر یو نو دا یو دور شو د غسے نور دوره نه به اوکړی۔

دلائل د جواز د دے طریقه مروجه چه دور مضمر مجمل دے د قرآن کریم نه

اول دلیل لفظ د وصیت دے په دے قول د الله تعالی کښ (من بعد وصیة یوصی بها او دین) په نساء وجه د استدلال دا ده چه لفظ د وصیت مطلق دے او تمامو کتابونو د علم اصول الفقه ویلی دی چه مطلق جاری کیږی په اطلاق په د شان چه هر فرد ید مطلق دا سے ثابت دے لکه منصوص وی او که وهابیه وغیره دا نه منی نو په هر شخص به فریضه د مونځ او د روژے او د حج او د زکوة وغیرها هم نه منی حکمه چه د فرد تصریح نشته په قرآن او احادیثو کښ نه په اعمالو او نه په ایمان کښ نو بنا ید غه قول خبیث دین اسلام د دنیا نه ورک شو۔ او دا لازم باطل دے نو ملزوم (چه قول د وهابیو دے) هم باطل شو نو ثابته شوه چه په مطلق او عام سره هر فرد ثابت دے۔ او یو دا فراد د وصیت ورکولو نه وصیت ورکول په طریقه مروجه چه دور مضمر مجمل دے۔

دویم دلیل لفظ د وصیت دے په دے قول د خدائے تعالی کښ (من بعد وصیة یوصین بها او دین) مقام مذکور وجه د استدلال اوس ذکر شوه۔

دریم دلیل لفظ د وصیت دے په دے قول د خدائے تعالی کښ (من بعد وصیة توصون بها او دین) مقام مذکور وجه د استدلال ذکر شوے ده۔

څلورم دلیل لفظ د وصیت دے په دے قول د خدائے تعالی کښ (من بعد وصیة یوصی بها او دین) مقام مذکور وجه د استدلال اوس ذکر شویده۔

پنځم دلیل لفظ د دین دے په دغه اول ایت مذکوره کښ وجه د استدلال اوس ذکر شویده۔

شپږم دلیل لفظ د دین دے په دویم ایت مذکوره کښ وجه د استدلال اوس ذکر شویده۔

اووم دلیل لفظ د دین دے په دریم ایت مذکوره کښ وجه د استدلال اوس ذکر شویده۔

اتم دلیل لفظ د دین دے په څلورم ایت مذکوره کښ وجه د استدلال اوس ذکر شویده۔

(دلائل د جواز د دے طریقے مروجے چه دور مضمر مجمل دے د احادیثو نه)

(۱) اول حدیث عن ابن عباس ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لا یصوم احد عن احد ولا یصلی احد عن احد ولکن یطعم عنه رواه النسائی والعینی ثم حاشیة البخاری صوم ص۲۶۲ ومجموعة رسائل الشامی ص۲۱۳/۱ ومجمع الانهر صوم ص۲۴۲/۱ ومشکل الآثار ص۱۴۱/۱ وسنن الکبری وجوهر النقی ج۴ والزیلعی ص۶۳/۲ ودر ص۱۶۷ وجه د استدلال دا ده چه ولکن یطعم عنه مطلق دے شامل دے دور مضمر مجمل لره هم او شامل دے ولی او اجنبی متبرع لره او قرض او غیره لره۔

(فائده) په دے حدیث سره فدیه د صلوة صریحاً ثابته شوه نو قیاس کول د صلوة په صوم دپاره اثبات د فدیه د صلوة ضروری نه دے حکه چه په صریح حدیث سره ثابت شوے ده۔

عن ... عن النبی صلی الله علیه وسلم قال من مات وعلیه صیام شهر رمضان فلیطعم

مکان کل یوم مسکینًا رواه الترمذی صوم ص۲۲۳ ج۱ وقال والصحیح انه موقوف علی ابن عمر رض مشکوٰة صوم قضاء ص۱۷۸

وجه داستدلال دا دی چه لفظ د فلیطعم الخ مطلق دی شامل دے ټولو افرادو ته نو لره چه یو ترنه دور

مضمر مجمل دے چه محرر یا محرک ورته مروجه طریقه وائی۔

دریم حدیث د حضرت عمر فاروق رض دے

څلورم حدیث د حضرت عثمان ذی النورین رض دادواړه به په جواب نو د قول ثالث د فتوی منکور کښې د اشی

دادویم قول الجواب (الی قوله) دغه مروجه طریقه د اسقاط شرعًا ناجائز ده غلط دے په وجوه

اوله وجه دا ده چه په دے مقام کښې لفظ ناجائز اسم فاعل مذکر غلط دے دده په زعم صیغه د مونث پکار وه

مګر دا مسکین د علم نه پاک دے او تائید کونکو دے غلطئ پرواه نه کړه نو د اصل مسئلے به څه پروا او کړی؟

دویمه وجه دا ده چه لفظ ناجائز یا به په معنے د حرام وی او یا به په معنی د مکروه وی او شک نشته چه

هر یو د حرام او مکروه نه حکم شرعی دے او حکم شرعی لره لابدی وی د دلیل شرعی نه او دلته نه

آیت شته او نه حدیث او نه اجماع او نه قیاس شرعی نو دا جواب باطل شو۔

دریمه وجه دا ده چه دا جواب نه دیو صحابی نه منقول دے نه د تابعی نه۔ نه د مجتهد مطلق نه او نه مجتهد

فی المذهب۔ او نه د مجتهد فی المسئله نه۔ او نه د معتمد حاطب اللیل نه نو دے جواب له هیڅ اعتبار نشته۔

(۱) قال فی فتح القدیر وقد استقر رای الاصولیین علی ان المفتی هو المجتهد فاما غیر المجتهد ممن یحفظ اقوال

المجتهد فلیس بمفت۔ والواجب علیه اذا سئل ان یذکر قول المجتهد کالامام رح علی وجه الحکایة فعرف ان مایکون

فی زماننا من فتوی الموجودین لیس بفتوی بل هو نقل کلام المفتی لیاخذ به المستفتی وطریق نقله لذلك

عن المجتهد احد الامرین اما ان یکون له سند فیه۔ او یاخذه من کتاب معروف تداولته الایدی نحو کتب

محمد بن الحسن ونحوها لانه بمنزلة المتواتر والمشهور انتهی شامی رسم المفتی ص۲۲ ج۱

دادریم قول (۱) دا مروجه طریقه د فقهاء د ښودلے شوے طریقے نه خلاف ده (۲) مګر دا مروجه طریقه

د هغه حیله نه خلاف ده مردود دے په وجوه۔ بلکه دا طریقه مروجه عین ښودلے شوے طریقه د فقهاء کرام

ده لیکن دا محرر یا محرک په نه پوهیږی۔

اوله وجه دا ده چه دَ ور مذکور په جواب شرعی څما کښې په دوه قسمه دے یو مصرح دے هغه توقف د

هر یو د طرفینو دے په بل پورے د واسطے نه۔ او دویم قسم مضمر دے چه توقف د هر یو د طرفینو دے

په بل پورے سره د یو وے واسطے یا دوه یا زیات۔ پس هر یو د دور مضمر او مصرح په دوه قسمه دے یو مفصل

چه په هغے کښې تفصیل د هر فرد د هر نوع دا الهیو شوے وی او بیان د مقدار د فدیے د هر حق هم شوے وی

او دویم دور مجمل چه په هغه کښې تفصیل د هر فرد او بیان د مقدار د فدیے د هر حق نه وی شوے نو

بنه ظاهره شوه چه دَ ور په څلور قسمه دے او دا څلور قسمه روا دی۔ او شك نشته چه دے محرر یا محرك

دا جواز منلے دے په دوو قولو خپلو سره اول دا الفاظ دی د فقهاء د ښودلے شوے طریقے الخ او دویم

دا الفاظ دی او کومه حیله چه معتمدو کتابونو او ړے ده هغه هم درسته ده ځکه چه د الفظ د طریقه

په قول اول کښې او دا لفظ د حیله په قول دویم کښې یقینًا تعبیر دے د دور مذکور منقسم نه څلورو اقسامو خپلو ته

نو دے طریقے او حیلے ته درست ویل جمیع اقسامو د دوره ته درست ویل دی۔

دویم وجه دا ده چه دے ټولو اقسامو ته فقهاء کرامو جائز ویلی دی

(۱) المنصوص علیه فی المذهب۔ وعلیه العمل۔ ان یجمع الوارث عشرة رجال لیس فیهم غنی ولا عبد ولا صبی

ولا مجنون (الی قوله) ینبغی ان یفعل الدور وان کان الشخص (المیت) محافظًا علی صلواته (وکذا علی بقیة

الحقوق) احتیاطًا خشیة ان یکون وقع خلل ولم یشعر به (وهما تعارفه الناس) ونص علیه اهل المذهب

ان الواجب اذا کثر اداره واصرة مشتملة علی نقود او غیرها کجواهر او حلی او سلعة و بنوا الامر علی القیمة الخ

مجموعة رسائل الشامی ص۲۱۱ ج۱ وص۲۱۲ وغیرها عبارات کثیرة ځکه چه دا لفظ (ان یجمع الوارث عشرة رجال الخ)

او دا لفظ (ینبغی ان یفعل الدور الخ) او دا لفظ (اداره واصرة الخ) مطلق دی شامل دی څلور وارو صورتونو د دور

لره چه یو ترنه دور مضمر مجمل دے چه طریقه مروجه ده

دریمه وجه دا ده چه دے ټولو اقسامو ته اجماع د مذاهبو اربعو جائز ویلی دی او ګورئ (۱) وفدیة الصلوٰة

مع غیرها لما ثبت فی متون المذهب صرحوا بانه المتفق علیه فی المذهب بل مالك والشافعی واحمد ایضا قالوا بجواز

الفدیة فی الصوم والصلوة عن المیت کابی حنیفة رح مبسوط (۲) ولا خلاف (بین المذاهب الاربعة کما مر) انه

امر مستحسن یصل الیه ثوابه اه جامع الرموز صوم ص۱۶۲ ج۱ ومجمع الانهر صوم ص۲۴۲ ج۱ ونور الهدی ص۲۳ ځکه چه د اجماع

دواړه عبارتونه مطلق دی نو شامل دی څلوره صورو د دور لره نو دور مضمر له هم شامل شو چه مروجه

طریقه ده۔ څلورمه وجه دا ده چه دا ټول اقسام ثابت دی په حدیث د امیر المؤمنین عمر فاروق رض

قال المورخ صاحب الفتوح (محمد بن عمر الواقدی) اخبرنا ابو عاصم بن جریج عن ابن شهاب عن ابی مسلمة عن

ابی موسی الاشعری رضی الله عنه قال فعل عمر رض تداور جزء فی عشرین رجلا بعد صلوة الجنازة لامرأة ملقبة

نجیبة بنت عربد رض زوجة قلاب لرجل من قبیلة الانصار ما حفظنا اسمه الفتاوی السمرقندی لابی اللیث ثم

المنهاج الواضح ص۲۶۵ ځکه چه تداور جزء شامل دے ټولو اقسامو لره چه یو ترنه دور مضمر مجمل دے چه مروجه طریقه ده

پنځمه وجه دا ده چه دا ټول اقسام ثابت دی په حدیث د امیر المؤمنین عثمان ذی النورین رض (۱)

شاع فعله فی زمان خلافة عثمان رض بانکار مروان عنادا وقال الامام السمرقندی ثم اشتهر فی خلافة هارون

الرشید من غیر انکار ونکیر دوران القرآن لحیلة الاسقاط الخ الفتاوی السمرقندی لابی اللیث ثم المنهاج الواضح ص۲۶۵

ځکه چه په دے وخت کښې صحاب او تابعین موجود وو۔

شپږمه وجه دا ده چه دور مجمل برابر دے چه مصرح وی او که مضمر وی او دور مفصل برابر دے چه

مصرح وی او که مضمر وی ثابت دی په دے قول (۱) واطلاق کلام المصنف یدل علی انه لو دفع الفدیة مجملة

الی الفقیر الواحد قبل الدفن من غیر تفصیل کل نوع من حقوق الله تعالی جاز ولهذا لم یشترط المصنف

العدد والمقدار وبه اخذ بعض العلماء۔ لکن المفصل افضل وبالمفصل اخذ جمهور العلماء جواهر النفیس ص۲۸

دَ ورِ مصرح مفصل (۱) یعطی ثلثة اصوع عن صلوات یوم ولیلة مع الوتر مثلا الی الفقیر ثم یدفعها الفقیر

الی الوارث ثم یدفعها الوارث الی الفقیر ثم یدفعها الفقیر الی الوارث هکذا یفعل مرارا حتی یستوعب الصلوات

ونحوها اه کبیری فوائت ص۵۸۳ والتتارخانیة ثم جواهر النفیس ص۳ وبرهنه فوائت ص۳۳۲ والملتقط ثم الاشباه

فن حیله ص۵۱۸ ومختصر الماچینی ثم الجواهر النفیس ص۳ وشرح هدایة ابن العماد للعارف الوالد عن احکام الجنائز

ثم منحة الخالق فوائت ص۹۷ ج۲ وجامع الرموز صوم ص۱۶۲ ج۱ وبحر فوایت ص۹۷ ج۲ والخلاصة ص۱۵۲ ج۱ والهندیة ص۱۲۷ ج۱

وطحطاوی ونور الهدی شامی ص۲۵۲/۱ج ص۲۲ ومجموعة رسائل شامی ص۱۴۲

دا غلورم قول او په ډیرو مفاسدو مشتمل اه مردود دے په وجوه

اوله وجه داده چه دا طریقه مروجه مشتمله ده په ډیرو منافعو بعض دهغو نه داده چه گنهگار مړی په دے
دور د دوزخ نه خلاصیږی (۱) لاینبغی ان یتساهل فی هذا الامر رائے الدور) فان به نجات المیت من عذاب
الله تعالی وغضبه اه مجموعة رسائل شامی ص۲۲۳/۱ج (۲) وهذا رائے الدور المکرر) هو المخلص فی ذلک انشاء الله
بمنه وکرمه اه المراقی اسقاط ص۲۶۳

دویمه وجه داده چه په دے دور سره حقوق الهیه د مړی نه ساقطیږی (۱) فحیلته لابراء ذمة المیت عن
ما علیه ان یدفع ذلک المقدار للفقیر فیسقط عن المیت بقدره اه نور الایضاح والمراقی ص۲۶۳ (۲) قال الامام ولو
اعطی الورثة المصحف لفقیر واحد من غیران یبین قیمة المصحف وتعداد مافات منه من الصلوة والصوم وغیرهما
من الواجبات صح وسقط من المیت کل حق فات عنه اه ملخصا السیر الکبیر لمحمد ثم خلاصة الفقه ثم تحفة الفقهاء
ثم اعلام المؤمنین ص۲۳ (۳) الصدقة النافلة محاة لکثیر من الذنوب المدخلة النار اه قسطلانی علم ص۱۹۰/۱ج
(۴) الاطعام بر مبتدأ یصلح ماحیا للسیئات فتح القدیر صوم ص۲۰۲/۱ج دالفظ الصدقة النافلة اه او الاطعام
مطلق دی شامل دی دور لره.

دریمه وجه داده چه صدقه د دور زیاته نفع د مړی لره د صدقه بلا دور نه (۱) وفی دعاء الاحیاء
للاموات وصدقتهم عنهم نفع لهم اه العقائد النسفیة وشرحها ص۱۲۱ وتمهید ابی الشکور السالمی القول ۹ ص۱۶۶
وطحطاوی جنائز ص۳۴۷

دا قول باطل رسومات پکښ داخل کړی شویدی لکه دیتامی او دغائبینو مال پکښ تقسیمیږی
مردود دے په وجوه اوله وجه داده چه مطلقه طریقه مروجه په ټولو صورتونو د دے منع کول په سبب
د داسے نادر الوجود صورت چه ټول د عقل خاوندان پرې پوهیږی. اوګوره د دهٔ په زعم به د هر مړی
یتیمان وی. او د هر مړی به غائبان وی. (شرم. شرم. شرم) څومره د اهل السنة والجماعة دا نیکه
طریقه ده چه یو مسلمان وفات شی نو د هغه ټول اقارب خپلوان (د میراث حق وی او که نه وی) او
دوستان ئے خبرکوو.

دویمه وجه داده چه د مړی مال شته او وصیت شرعیه ئے کړے دے نو په دے صورت کښ چه اکثر
موجودیږی په دے کښ لفظ دیتامی او غائبینو لغو و عبث شو. او د دے صورت نه منکر **کافر** دے ځکه چه
قطعی دے په څلورو ایتونو د رکوع د میراث ثابت دے.

دریمه وجه داده چه د مړی مال نه وی او ولی د مړی د خپل مال نه تبرعاً طریقه مروجه اوکړی
نو الفاظ دیتامی او دغائبینو سیلے یو ړل برباد شول. (۱) ان تبرع الولی به یجوزه اه فتاوی الحجة لقاضیخان
ثم الهندیه فوائت ص۱۲۱ وکبیری ص۵۸۳ والمراقی والطحطاوی ص۲۶۳ واللباب ۹ الجوهره صوم ص۱۴۳/۱ج والفتح صوم ص۳۸۲
وجامع الرموز والملتقی ثم مجمع الانهر صوم ص۲۴۲ وعینی الهدایة صوم ص۳۵۳/۱ج والخانیه صوم ص۱۸۶/۱ج وبرهنه ص۱۲۱
والتنویر والدر المختار والشامی ص۴۹۲/۱ج ومالابدمنه ص۲۸ وجواهر النفیس ص۱۰۴ عن الملتقط ومجموعة رسائل الشامی ص۲۱۱
ص۲۱۲/۲۱۳ وص۲۱۴/۲۱۹ وص۲۲۰

څلورمه وجه داده چه د مړی مال نه وی او اجنبی د خپل مال نه تبرعاً طریقه مروجه اوکړی
د ستا د الفاظ دیتامی او غائبین لغو لاړ اوګوره (۱) یجوز تبرع الاجنبی به اه المراقی ص۲۶۳ والطحطاوی ص۲۶۴
شامی ص۴۹۲/۱ج وعینی الهدایه صوم ص۳۵۳ والبرجندی صوم ص۲۲۱/۱ج ومنحة الخالق فوائت ص۹۷/۲ج

پنځمه وجه داده چه د مړی مال نه وی او وارث قرض واخلی په خپل ځان او طریقه مروجه ئے اوکړی
نو ستا د الفاظ یتامی او غائبینو شرعاً برباد شو اوګوره (۱) وان لم یترک مالا یستقرض ورثته نصف
صاع ویدفع الی المسکین ثم یتصدق المسکین علی بعض ورثته ثم یتصدق ثم وثم حتی یتم لکل صلوة
ما ذکرنا اه خلاصه ص۱۵۳/۱ج ثم هندیه ص۱۲۱/۱ج وبرهنه فوائت ص۳۳۶/۱ج وبحر ص۹۷/۲ج وطحطاوی ص۲۱۲ وبرجندی
صوم ص۲۲۱/۱ج وجامع الرموز ص۱۶۲/۲ج ونور الهدی ص۲۳ والتتارخانیه ثم جواهر النفیس ص۳ والاشباه والحموی فن حیل ص۱۸۸
ومختصر الماچینی ثم الجواهر ص۳ وشرح هدیه ابن العماد للعارف عن والده عن احکام الجنائز ثم منحة الخالق ص۹۸/۲ج

شپږمه وجه داده چه د مړی مال وی او وصیت ئے نه وی کړے نو بالغ وارث د خپلے ذمه واری
په بنا د دغه موجود شمال نه طریقه مروجه اوکړی نو دیتامی او غائبینو مال نه دے تقسیم شوے بلکه پوره
موجود دے. البته وهابیان د مړو دشمنان دی غواړی چه مړو له عذاب ورکړے شوے.

دا قول. نیز فدیه مستحق فقراء دی او په دے طریقه مروجه کښ د اغنیاء او فقراء امتیاز نه وی مردود
دے ځکه چه د فدیه مستحق په دوه صورتونو کښ فقراء دی

اول صورت هغه دے چه فدیه بلا دور ورکوی نو غنی لره نه ورکوی (۱) وفی الجوهرة النیرة لایجوز صرف
فدیة الصلوة والصوم والکفارات الی من لایجوز دفع الزکوة الیه کالاصول والفروع والغنی اه جواهر النفیس ص۳
دویم صورت د دور دے چه په حلقه د دور کښ د غنی نه وی (۱) لحینئذ یجمع الوارث عشرة رجال لیس فیهم
غنی اه شرح هدیة ابن العماد للعارف عن والده عن احکام الجنائز ثم منحة الخالق فوائت ص۹۷/۹۸ج مکرراً
مسکینان د علم څه خبر دی چه اهل السنة والجماعة په دے طریقه مروجه کښ چه غنی له هم ورکوی نو بعد الدور
ورکوی فقط او دغه مال بعد الدور صدقه نافله ده غنی او فقیر د واړو له جائز ده (۱) ثم (لے بعد الدور)
یهبونه المال فیاخذه صاحبه وارثا کان او فقیرا ثم یتصدق علی الفقیر من الفدیة ما شاء من الدراهم
ولا یجب تقسیم المال المذکور جمیعا علی الفقراء وهذه حیلة شرعیة اه منحة الخالق ص۹۸/۲ج (۲) ثم ینبغی
بعد تمام ذلک کله ان یتصدق علی الفقراء بشیء من ذلک المال او بما اوصی به المیت ان کان اوصی اه شامی
(۳) ثم یخرج شیئا من ذلک المال یرضی به کل فقیر بان یدفع الیه ما به نفسه لیطیب وهذا یختلف باختلاف
منازل الفقراء ومنازل الناس الذین یفعل لهم الاسقاط اه مجموعة رسائل الشامی ص۲۲۴/۱ج

وجه استدلال داده چه د الفاظ ثم یتصدق اه ولا یجب تقسیم المال کله اه ثم ینبغی اه وان
یتصدق اه ثم یخرج شیئا اه صریح دی په دے کښ چه فدیه واجبه په دورونو کښ پوره شوی ده. او دا
بعد الدور صدقه نافله ده. نو د غنی او فقیر. او د مقدار سوال پکښ نشته خدایتعالی د دے وهابیانو ته هدایت اوکړی

دا اوم قول. قرآن کریم پکښ په ډیر زیات قیمت حسابیږی اوکوبخولے کیږی اه مردود دے په وجوه
اوله وجه داده چه د قرآن کریم قیمت حساب کول شرط نه دی اوګوره (۱) ولو اعطی الورثة المصحف لفقیر
واحد من غیران یبین قیمة المصحف وتعداد مافات منه من الصلوة والصوم وغیرهما من الواجبات صح وسقط من

من المیت کل حق فات عنه اه ملحقات السیر الکبیر لمحمد ثم خلاصة الفقه ثم تحفة الفقهاء ثم اعلام المؤمنین ص۳۳

دویمه وجه داده چه د قرآن قیمت هیڅ شك نشته چه ډیر زیات دے اوګوره (۱) وفی الکواشی المستاجر للختم لیس له ان یاخذ الاجر اقل من خمسة واربعین درهما شرعیا هذا اذا لم یسم شیئا من الاجر کما ذکره فی الاصل لے المبسوط فی رجل قال للقاری اختم القرآن لی ولم یسم شیئا من الاجر وختمه لیس له ان یاخذ اقل من خمسة واربعین درهما لمخالفة النص الا ان یهب الاجیر المستاجر ما فوق المسمی الی خمسة واربعین بعد العقد علیه او شرط ان یکون ثواب ما فوقه لنفسه فلا یاثم. وعلی هذا لو قال القاری اقرء ختما بقدر ما قدرت من الاجر حین امره المستاجر بالختم باقل من خمسة واربعین درهما فقرء من القرآن ذلك المقدار من الثلث والربع او النصف او نحوها فلا یاثم وهذا مما یجب حفظه لابتلاء العوام والخواص بذلك اه خزینة الاسرار ص۶۶ (اوګوری د ونړو) دا مذکور خو مقدار د اجرة دختم د قرآن دے ، نو ذات د قرآن خو ډیر اوچت دَے۔

دریمه وجه داده چه (۱) وفی الحدیث عن الحسین بن علی انه بعث علی بن الحسین زین العابدین الی عبد الرحمٰن السلمی لیعلمه القرآن فعلمه فاتحة الکتاب فقرأها بین ابیه الحسین فارسل الیه الحسین بعشر بدرات جمع بدرة لے بعشرة الاف درهم وبعشرة افراس وبعشر تخوف من الثیاب فقیل بم استحق هذا قال لانه علم ولدی فاتحة الکتاب هی التی لم تنزل علی احد من لدن آدم الی محمد علیهما الصلوة والسلام ولم تنزل علی جده سورة افضل منها فهذا الذی انفذت الیه دون حقه کذا فی تفسیر حقی اه خزینة الاسرار ص۶۷ اوګوری د ونړو دا خو مقدار د اجرت د تعلیم د قرآن دے نو ذات د قرآن خو ډیر زیات اوچت دے۔

څلورمه وجه داده چه که څرګر خول د قرآن ممنوع وے نو د مدینه منوره نه به په اطرافو د دنیا کښ ګرځول د قرآن هم ممنوع وَے علاوه دا وایم چه په درسګاه کښ چه شاګردان قرآن مجید استاد له راوړی نو دا به هم ممنوع وی العیاذ بالله۔

دا اتم قول چه یقینا د مړی په تدفین کښ تاخیر اولی مردود دَے په وجوه

اوله وجه داده چه داد ورخو دا سے ضروری دَے دپاره د مړی چه څرګړه د عذاب نه خلاصیږی لکه د څلورم قول په جوابونو کښ تیر شوی دی که په دَه سره دغه تاخیر جرم وی نو په غسل به تاخیر هم جرم وی

دویمه وجه داده چه دا سے ضروری دَه درکه تاخیر جرم وی نو په صلوة جنازه به هم تاخیر جرم وی ځکه چه مقصود د جنازے نه او د دَور الفدیه نه یو دے چه مغفرت د مړی دَے۔

دریمه وجه داده چه دَور مذکور قبل الدفن شرع شریفه ده (۱) وینبغی ان یفدی قبل الدفن وان جاز بعده اه جامع الرموز ص۱۶۱ و نور الهدی ص۶۳ و مجمع الانهر ص۱۲۲ و برهنه فوائت ص۳۳۶ و تنقیح ص۱۳۱ و مجموعه رسائل ص۲۱۹ و جامع الرمزات ثم جواهر النفیس ص۳۳ (فائده) فائده په دور قبل الدفن کښ داده چه په دَور مړے د ګناهو نو نه پاك شی (دا مسئله په جوابونو د څلورم قول کښ ذکر شوی ده) نو مړے به قبر له پاك روان کړے شی لو دغه قبر به د جنت یو باغیچه وی القبر اما روضة من ریاض الجنة الحدیث مشکوة عذاب القبر نو دا مړے به د خوشحالئ نه وائی قدمونی قدمونی الحدیث البخاری جنائز۔

دا نهم قول او اکثر د هغه مال نوبت سوځته دسی مردود دَے ځکه چه دا تلسو علماؤ کرامو نه نقل شوی دے په جوابونو د پنځم قول کښ چه د دَور دپاره د وارثان قرض اخلی نو هغو خو دسو طرف ته هیڅ توجه

نه کړے نو ظاهره شوه چه دا صرف خود ساخته فریب او مکر دَے هرګز قابل توجه نه دے اللهم احفظنا من مکرهم

دا لسم قول حیله د اسقاط علماؤ د یو مفلس مړی دپاره وضع کړیده او په مروجه طریقه کښ د غنی دپاره هم کیږی مردود دَے په وجوه

اوله وجه داده چه دا مسئله په کتابونو د فقه شریفه کښ په دے الفاظو ده وان لم یترك مالا یستقرض وارثه اه جزاء په شرط مرتبه ده مګر منحصره نه ده په شرط پورے۔

دویمه وجه داده چه دے محرر یا محرك اقرار کړیدے په دے خپل مذکور قول سره په مقصود د اهل السنة والجماعة ځکه چه دا الفاظ صریح دی په دے خبره کښ چه وضع د علماؤ ده د و ر مضمر مجمل چه مروجه طریقه ده مقبول او معتبر ده شرعا۔ نو زه وائم چه د دے مروجه طریقے نه انکار د شرع نه انکار دَے۔

دریمه وجه داده چه دا مروجه طریقه غنی له کول هم روا ده ځکه چه د یو شمسی کال د مونځونو (۱۸۲۵) پوره فدیه بلا دَور په کیل د قسطنطیه سره (چه دا کیل د دے سیره شپږ چټاکئ دی) ۲۴ کیله کیږی منحة الخالق فوائت ص۹۷ نو په دے حساب سره د یو شمسی کال د مونځونو فدیه لس چټاکے کم څلور زره پنځوس منه غنم شو نو د دوه کلو شل چټاکے کم ۱۰۸ منه غنم شو نو د څلورو کلو نو څلویښت چټاکے کم ۲۱۶ منه غنم شو او د اتو کلو نو اتیا چټاکے کم ۴۳۲ منه غنم شو او د شپاړسو کلو نو اته شلے چټاکے کم ۸۶۴ منه غنم شو او د دویرشو کلو نو شپاړس شلے چټاکے کم ۱۷۲۸ منه غنم شو وعلی هذا القیاس دا مذکور صرف د مونځونو فدیه بیان شوه د غسے نور حقوق الٰهیه دی (اوګوره حقوق الله تعالی الصلوة والصوم الفرض وصوم کفارة الیمین وصوم الظهار وصوم النذر وصوم الاعتکاف المنذور وصدقة الفطر والنفقة الواجبة والخراج اه المراقی ص۲۶۲ و جواهر النفیس ص۳۰ وغیرها (لو د ونړو) رښتیا اوائی چه څوك د پنځو سو یا زیاتو کلو نو مړوی نو دهغه بلا دَور فدیه پوره د تمامو مذکوره حقوقو الٰهیه وهیڅوك نشی اداکولے. نو دَور ضرور شهٔ

څلورمه وجه داده چه مړے په اوه قسم دے۔

(۱) اول قسم میت مفلس دَے چه وارث ئے اسقاط د خپل مال نه کوی.

(۲) دویم قسم میت مفلس دے چه وارث ئے په قرض اسقاط کوی

(۳) دریم قسم میت مفلس دَے چه اجنبی ئے تبرعا اسقاط کوی۔

(۴) څلورم قسم میت مالدار وی چه وصیت ئے کړے وی په کم د واجبا تو نه نو دے اوس مفلس دے وان لم یف ما اوصی به علیه المراقی (۵) پنځم قسم میت مالدار دے چه وصیت ئے کړے په ثلث مګر نه کافی کیږی واجبا تو لره اولم یکف ثلث ماله الخ مراقی

(۶) شپږم قسم میت مالدار دَے مګر وصیت ئے نه دے کړے نو دے اوس مفلس دَے۔

(۷) اوم قسم میت مالدار دے چه وصیت کافی وی واجبا تو لره شپږ اولو قسمو لره حیله روا ده په اتفاق په دلیل د قول مذکور مګر په اوم قسم کښ اختلاف دَے وهابیه پوره فدیه وائی او اهل السنة والجماعت وائی چه دا غنقا دے ځکه چه تا سو د پوره فدیے حال اولیدلو نو دور ضروری شهٔ۔

دا یولسم قول - او دا نورو امور نا جائز او غلط دی اه مردود دَے ځکه چه دا امور مذکوره شپږ دی د دے شپږو واړو جوابونه مفصل بیان شوی پخپل خپل ځائے کښ مګر اجمالا دا وایم (۱) پنځم قول کښ د تامی او غائبینو شپږ جوابونه (۲) شپږم قول کښ اغنیاؤ لره فدیه ورکول لس جوابونه - (۳) په اوم قول کښ

قیمت د قرآن څلورم جوابونه دی . (۴) په اتم قول کښې په ډېرو دورسره په تدفین کښې تاخیر راځی دا ډیره
جوابونه (۵) په نهم قول کښې د هغه مال نوبت سود ته رسی یو جواب (۶) په لسم قول کښې مروجه
طریقه غنی له هم کیږی څلور جوابونه

دا دولسم قول - البته د مړی په ذمه چه کوم حقوق پاتے وی د هغه د طرف نه په شرعی طور فدیه
ورکول صحیح او ثابت دی اه

نو وایم چه دا اقرار دے په صحت او جواز د مروجه طریقه ځکه چه ما ثابته کړیده مروجه طریقه
په اته ایتونو - او په دیرش حدیثونو - او په ډیرو عبارتونو د معتبرو علماء کرامو -

دا دیارلسم قول او کومه حیله چه معتمدو کتابونو راوړے ده هغه درسته ده مگر دا مروجه طریقه
د هغے خلاف او ناجائز ده فقط -

نو وایم چه دا هم اقرار دے په جواز د مروجه طریقه چه اوس ئے بیان شوید ے . او د ناجائز
لفظ د دوئ نه ذکر شوی دی په جوابونو د دویم قول کښې -

او د خلاف لفظ د دوئ نه د دریم قول په جوابونو کښې تیر شویدی - (ان اردت الا الاصلاح)

صنفه وحرره المولوی شائسته گل المتوی عفا عنه الله القوی

یوم دو شنبه ۲۶ ستمبر سنه ۱۹۶۵ء

مختصر فهرست کتب خانهٔ رحیمیهٔ محله جنگی پشاور شهر

نوم	آنه	روپیه	نوم	آنه	روپیه
خلاصه کیدانی مع دو شرح بهیر و سعدیه	٠	١	تحفهٔ رشیدیه شرح مائة عامل پشتو از رشید الله صاحب صافی	١٢	٠
مختصر القدوری مع جوهره نیره	٠	٢	رحمت التجوید مع صحاح الضاد عن سقام الظاد پشتو	٠	١
مجمع الدلائل عرف باندی وال کنز شرح کنز اخیر عربی کامل	٨ + ٨	٣ + ٤	تذکیر الصالحین پشتو وعظ از مولانا محمد صالحین صاحب سواتی	٠	١
النوریه شرح خلاصه کیدانیه پشتو از افاضات استاد باجوړ	٤ + ٤	١ + ١	سلک الدرر خلاصه شرح نخبة الفکر پشتو از مولانا عبد الفتاح صاحب بادوانی	٤	٠
الدر المکنون شرح الفلک المشحون فیما یتعلق بانتفاع المرتهن بالمرهون	٨	٠	تعلیم الاسلام حصهٔ اول پشتو	٣	٠
هدیة المجتبی من فیوض الحبر المدنی شرح ترمذی	٠	١	نصیحة عباد الله فی ثبوت حرمة شرب الدخان از میا صاحب چمکنی رح	٤	٠
الذخائر لاهل البصائر در اثبات توسل و سماع الموتی و دعا	١٢	٠	ترکیب قنبری نوع اول از مولانا عبد الرشید صاحب قنبر	٨	٠
تنبیه الضمائر علی رد ردّ الذخائر پشتو در جواب مسئلهٔ وسیله	٤	١	حصول النجاة بقراءة سورة الملک والسماعة لیلة الجمعه	٢	٠
جواز التقبیل والاختیار مع فتوی مولانا صاحب غورغشتوی در اثبات دعا	٢	٠	اثبات دور الفدیه بالآیات والاحادیث والاجماع واقوال الثقات	٣	٠
سیف المبتدی عرف ضابطه بندی پشتو در علم منطق	١٣	٠	الاجوبة المنیفه لحفظ الاشارة فی مذهب الامام ابی حنیفه رح	٢	
تحفهٔ نعیمیه و تحفهٔ سعیدیه پشتو در مسائل ابتدائیه علم نحو	٤	٠	الخط الواضح لحفظ القادح	٢	٠
حاشیه وجود الطی لمولانا چلیبری و حکیم برکات احمد صاحب ټونکی	١٠	٠	توضیح الحق فی وضاحت کذبات اظهار الحق و مناظرهٔ مردان	[illegible]	٠
الدرر السنیه فی الرد علی الوهابیه عربی از شیخ ابن زینی دحلان مکی	١٠	٠	خلاصة مزیل الشبهات فی منع الاشارات عربی	٤	٠
الفوائد الحقیه شرح الزرادی عربی مع مفتاح الصرف	٤	١	الهامیه شرح هدایة النحو صحیح شده	١٢	١
متن الکافی فی علمی العروض والقوافی	٤	٠	سراج العقول فی غالبة الاصول عربی		١